# اې ترکي الفیصله! ایا د غزې یتیمان د انتقام په لټه کې دي؟

بسم الله الرحمن الرحیم

خبر:

د سعودي د استخباراتو پخواني رییس، ترکي فیصل په یوه مرکه کې چې د ۲۰۲۴ م کال د ډسمبر په ۵مه یې په انګلیسي ژبه وکړه، وویل: «په راتلونکي کې ښایي د غزې د یتیمانو موخه دا وي چې د السنوار پشان کسانو باندې بدل شي او امریکایانو، د سعودي خلکو او په نړۍ کې پر نورو قربانیانو برید وکړي. تاسو د السنوار او نورو مجرمانو په وژلو د تاوتریخوالي دا څرخ نه ختموئ، ځکه چې نور کسان یې ځای نیسي.»

تبصره:

ترکي فیصل په دغې مرکه کې د قران کریم دغه ایت ته اشاره وکړه:

**﴿مَن قَتَلَ نَفْساً بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعاً﴾ [مائده ۳۲]**

**ژباړه:** *«که چا یو انسان بې له قصاص یا پر ځمکه له فساد خپرولو پرته وواژه؛ نو لکه چې ټول خلک یې وژلي وي.»*

هغه ټینګار وکړ چې یهودي رژیم باید دا ایت په پام کې ونیسي؛ ځکه چې دا رژیم د نړۍ په کچه په رسمیت پېژندل شوی دولت دی. ده وویل چې «ترهګرې ډلې» د هغو کسانو شمېر ته نه ګوري چې وژني یې، بلکې یوازې پر خپلو موخو تمرکز کوي.

ترکي فیصل چې حق او باطل نه پېژني؛ حق، باطل او باطل، حق ګڼي؛ له یهودي رژیم سره د اړیکو عادي کولو غوښتونکی دی او مجاهدینو ته ترهګر وایي. هغه په ډاګه وایي چې د کافرانو په صف کې دی. دا ذلیل او حقیر انسان وېرېږي چې هسې نه یهودي او امریکایي ورونو ته یې زیان ورسېږي؛ ځکه خو دا ورته سخته ده چې د غزې یتیمان د خپلو عزیزانو د وینې غچ واخلي او په داسې مجاهدینو بدل شي چې ځمکه ازادوي، د مسلمانانو د عفت او حیثیت دفاع کوي او د مسلمانانو وینه ساتي. پر تاسو دې لعنت وي اې د آل سعود حکامو!

د مسلمانانو سیاسیونو او حکامو څرګندونې او دریځونه ښیي چې له دغو مصیبتونو او بدبختیو چې پر اسلامي امت یې سیوری غوړلی، بنسټیز بدلون ته اړتیا ده. دا بدلون باید د دغو مستبدانو د تختونو له راپرځولو پیل شي؛ دغو کسانو له الله سبحانه و تعالی، پیغمبر صلی الله علیه وسلم او هغو امانتونو سره خیانت کړی چې ورته سپارل شوي. دوی د مسلمانانو پر ځای کفار خپل ولیان او ملګري نیسي، د اشغالګرو پولې ساتي او جنایتونو ته یې مشروعیت ښني. د دوی عملونه په دنیا او اخرت کې بابیځه دي او باید پوه شي چې هیڅ کوم سرپرست او ملګری نه لري. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**﴿أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ دَمَّرَ اللهُ عَلَيْهِمْ وَلِلْكَافِرِينَ أَمْثَالُهَا * ذَلِكَ بِأَنَّ اللهَ مَوْلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَأَنَّ الْكَافِرِينَ لَا مَوْلَى لَهُمْ﴾ [محمد ۱۰، ۱۱]**

**ژباړه** *«نو ایا دوی په ځمکه کې ګرځېدلي نه دي، چې وګوري؛ تر دوی د وړاندې خلکو پای څنګه وه، الله دوی وځپل او کافرانو ته همدغسې سزاګانې دي. دا ځکه چې الله د مؤمنانو پالندوی (او کار سازی) دی؛ خو د کافرانو پالندوی (او مرستندوی) نشته.»*

لیکوال: درة البکوش